دافغانستان اسلامي جمهوریت
دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

● د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شـــکایتونو کمېـــسیون د تشکیل، دندو او واکونو قانون

● د ۱۳۹۲هــ.ش کال په (۱۱۱۲) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي د ټاکنو د قانون په ځینو مـــادوکې تعدیل او ایزاد

● قانون تشکیل، وظایف و صلاحیت های کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون شکایات انتخاباتی

● تعدیل و ایزاد در برخی از مـــواد قانون انتخابات منتـــشرۀ جریـــدۀ رسمی شماره(۱۱۱۲)سال ۱۳۹۲

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۴ هـــ.ش کال د تلې دمیاشتې (۷)
پرله پسې نمبر:(۱۱۸۴)

تاریخ نشـــر: (۷) میزان سال ۱۳۹۴ هـــ . ش
بر مسلسل: (۱۱۸۴)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــي وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰۶۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

**قیمت این شماره:** (۵۰) افغانی

**تیراژ چاپ:** (۳۰۰۰) جلد

**مطبعه:** بهیـــــر

**آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباط‌عامه، چهارراهی پشتونستان**

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون د تشکیل، دندو او واکونو د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس

تقنیني فرمان

ګڼه: (۸۵)

نېټه: ۱۵/ ٦/ ۱۳۹۴

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اویایمې مادې د حکم له مخې، د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون د تشکیل، دندو او واکونو قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۴/٦/۱۳۹۴ نېټې (۲۱) ګڼې مصوبې پربنسټ تصویب شوی دی، توشېح کوم.

دوه یمه ماده:

د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شورې د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترځ کې

فرمان تقنینی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

در مورد توشیح قانون تشکیل، وظایف و صلاحیت های کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون شکایات انتخاباتی

شماره: (۸۵)

تاریخ: ۱۳۹۴/٦/۱۵

مادهٔ اول:

به تأسی از حکم مادهٔ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، قانون تشکیل، و ظایف و صلاحیت های کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون شکایات انتخاباتی را که به اساس مصوبه شماره (۲۱) مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۱۴ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

مادهٔ دوم:

وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، این فرمان را در خلال مدت (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسهٔ شورای ملی به آن شوری

هغې شورې ته ورلاندې کړي.

**درېیمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او نوموړي قانون سره یوځای دې، په رسمي جریده کې خپاره شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

تقدیم نمایند.

**مادهٔ سوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و قانون مذکور در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون د تشکیل، دندو او واکونو د قانون په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې**

**مصوبه**

**ګڼه: (۲۱)**

**نېټه: ۱۴/ ٦/ ۱۳۹۴**

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون د تشکیل، دندو او واکونو د قانون طرحه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د۱۴/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې په غونډه کې په (۵) فصلونو او (۲٦) مادو کې تصویب شوې ده، منظوروم.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**مصوبهٔ**

**کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد قانون تشکیل، وظایف و صلاحیت های کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون شکایات انتخاباتی**

**شماره: (۲۱)**

**تاریخ: ۱۳۹۴/٦/۱۴**

طرح قانون تشکیل، وظایف و صلاحیت های کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون شکایات انتخاباتی را که در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۱۴ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان بداخل (۵) فصل و (۲٦) ماده تصویب گردیده، منظور می دارم.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

فهرست مندرجات

## قانون تشکیل، وظایف و صلاحیت های کمیسیون مستقل انتخابات و کمیسیون شکایات انتخاباتی

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀاول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم: | تأسیس | ۲ |
| مادۀ چهارم: | نام اختصاری | ۲ |


## فصل دوم

## تشکیل و طرزفعالیت کمیسیون


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم : | تشکیل کمیسیون | ۳ |
| مادۀ ششم : | مکلفیت های اعضای کمیسیون دارالانشاء | ۴ |
| مادۀ هفتم : | شرایط عضویت کمیسیون | ۵ |
| مادۀ هشتم : | کمیته گزینش طرز تعیین اعضاء کمیسیون | ۵ |
| مادۀ نهم : | تحلیف | ۸ |
| مادۀ دهم : | حالات از دست دادن عضویت کمیسیون | ۹ |
| مادۀ یازدهم: | مصئونیت از تعقیب عدلی | ۱۱ |
| مادۀ دوازدهم: | جلسات کمیسیون | ۱۱ |

مادۀ سیزدهم: تصامیم و فیصله های کمیسیون........................۱۲

**فصل سوم**

**وظایف صلاحیت های کمیسیون**

مادۀ چهاردهم: وظایف صلاحیت ها..................................۱۳

مادۀ پانزدهم: وظایف و صلاحیت های رئیس کمیسیون..............۱۷

مادۀ شانزدهم: دارالانشاء............................................۱۷

مادۀ هفدهم: استخدام کارکنان.......................................۱۸

مادۀ هجدهم: رعایت طرز سلوک.....................................۱۹

مادۀ نزدهم: موانع استخدام..........................................۱۹

**فصل چهارم**

**تشکیل، وظایف و صلاحیت های کمیسیون شکایات**

مادۀ بیستم: کمیسیون مرکزی شکایات...............................۲۰

مادۀ بیست ویکم: کمیسیون های ولایتی شکایات.....................۲۲

مادۀ بیست ودوم: دارالانشای کمیسیون شکایات..................... ۲۴

مادۀ بیست وسوم: استخدام کارکنان...................................۲۴

**فصل پنجم**

**احکام متفرقه**

مادۀ بیست و چهارم: مصئونیت امنیتی................................۲۵

مادۀ بیست و پنجم: نشریه، نشان و مهر...............................۲۵

مادۀ بیست وششم: تاریخ انفاذ........................................۲۵

# د ټاکنو دخپلواک کمېسيون اودټاکنيزوشکايتونو کمېسيون دتشکيل، دندو او واکونو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنيٰ**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د درې دېرشمې او يو سلو شپږپنځوسمې مادې د حکم له مخې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د تشکيل، دندو، واکونو او د فعاليت د ډول پورې اړوند چارو تنظيم.

۲- د ټاکنيزو شکايتونو د کميسيون د تشکيل، دندو او صلاحيتونو اړوند چارو تنظيم.

# قانون تشکيل، وظايف و صلاحيت های کميسيون مستقل انتخابات وکميسيون شکايات انتخاباتی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنیٰ**

**مادۀ اول:**

اين قانون به تأسی از احکام مواد سی و سوم و يکصد و پنجاه و ششم قانون اساسی افغانستان، وضع گرديده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف اين قانون عبارت اند از:

۱- تنظيم امور مربوط به تشکيل، وظايف، صلاحيت ها و طرز فعاليت کميسيون مستقل انتخابات.

۲- تنظيم امور مربوط به تشکيل، وظايف و صلاحيت های کميسيون شکايات انتخاباتی.

تأسيس

درېيمه ماده:

(۱) د ټاکنو خپلــواک کمېســيون او د ټاکنيزو شکايتونو مرکزي کمېســيون د افغانستان اسلامي جمهوري دولــت پــه چوکاټ کې تأسيس او په خپلو فعاليتونو کې له بشپړې خپلواکۍ څخــه بــرخمن دي.

(۲) د ټاکــنو خپــلواک کمېسيون او د ټاکنيزو شکايتونو کمېســيون د خپلــو فعاليتونو په سرته رسولو کې د اساســي قانون، د ټاکنو قانون، دغه قــانون او د هېواد د نورو نافذو قوانينو حکمونــه د عمل ملاک ګرځوي.

اختصاري نوم

څلورمه ماده:

(۱) د ټاکنو خپلواک کمېسيون لــه دې وروسته په دې قانون کې د کمېسيون په نامه يادېږي.

(۲) د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون له دې وروسته په دې قانون کې د شــکايتونو د کمېسيون په نامه يادېږي.

تأسيس

مادهٔ سوم:

(۱) کميسيون مســتقل انتخابــات و کميسيون مرکزی شکايات انتخاباتی در چوکات دولــت جمهــوری اســلامی افغانستان تأسيس و در فعاليــت هــای خويش از استقلال کامــل برخــوردار می باشند.

(۲) کميسيون مســتقل انتخابــات و کميسيون شکايات انتخاباتی در انجــام فعاليت های خويش احکام قانون اساسی افغانستان، قانون انتخابات، اين قانون و ساير قوانين نافذ کشور را ملاک عمل قرار می دهند.

نام اختصاری

مادهٔ چهارم:

(۱) کميسيون مستقل انتخابات منبعــد دراين قــانون بنــام کميســيون يــاد می گردد.

(۲) کميسيون شکايات انتخاباتی منبعد در اين قانون بنام کميسيون شکايات ياد می گردد.

## دوه یم فصل

## دکمېسيون تشکيل او د فعاليت ډول

**دکمېسيون تشکيل**

**پنځمه ماده:**

(۱)کمېسيون د لاندې تشکيل لرونکــی دی:

۱ – مرکزي دفتر.

۲ –دارالانشاء.

۳ –ولايتي دفترونه.

(۲) د کمېسيون رئيس، مرستيال او منشي د غړو له منځه پخپله د دوی په واسطه د آزادې، پټې او مستقيمې رايې پر بنســټ ټاکل کېږي.

۱– د کمېسيون رئيس د دوو کلونو او شپږو مياشتو مودې له پاره.

۲– د کمېسيون مرستيال او منشي د يوه کال مودې له پاره.

(۳) د کمېسيون د مرستيال، منشــي او نورو غړو د دندو او واکونــو حــدود، د کورنيو دندو په هغــې لايحــې کــې چې د کمېسيون له خوا تصويبېږي ټاکل

## فصل دوم

## تشکيل و طرز فعاليت کميسيون

**تشکيل کميسيون**

**مادهٔ پنجم:**

(۱) کميســيون دارای تشــکيل ذيــل می باشد:

۱– دفتر مرکزی.

۲– دارالانشاء.

۳– دفاتر ولايتی.

(۲) رئيس، معاون و منشی کميسيون از ميان اعضاء توسط خود آنها به اســاس رأی آزاد، سری ومســتقيم انتخــاب می شود.

۱– رئيس کميسيون برای مدت دوسال و شش ماه.

۲– معاون و منشی کميســيون بــرای مدت يک سال.

(۳) حدود وظايف و صلاحيت هــای معاون، منشی و ساير اعضای کميسيون در لايحهٔ وظايف داخلی که ازجانــب کميسيون تصويب می گــردد، تعيــين

کېږي.

## د کمېسيون دغړو او د دارالانشاء د رئيس مکلفيتونه

شپږمه ماده:

(۱) دکمېسيون رئيس، مرستيال، منشي او غړي او د دارالانشاء رئيس مکلف دي، خپلې دندې د افغانستان د اساسي قانون، دغه قانون، او نورو تقنيني سندونو دحکمونو مطابق په بې طرفۍ اومسئولانه توګه سرته ورسوي.

(۲) د کمېسيون رئيس، مرستيال، منشي، غړي او د دارالانشاء رئيس د دندې د تصدۍ په وخت کې په سياسي او نظامي فعاليتونو کې د ګډون او په دولتي او غيردولتي دندو کې د بوختېدو حق نه لري.

په ښوونيزو او تحصيلي مؤسسو کې په تدريسي چارو باندې بوختېدل چې د دندې د ترسره کولو خنډ نه شي، له دې حکم څخه مستثنیٰ دي.

می شود.

## مکلفیت های اعضای کمیسیون و رئیس دارالانشاء

مادهٔ ششم:

(۱) رئیس، معاون، منشی و اعضای کمیسیون و رئیس دارالانشاء مکلف اند، وظایف خویش را بی طرفانه و مسئولانه، مطابق به احکام قانون اساسی افغانستان، این قانون و سایر اسناد تقنینی انجام دهند.

(۲) رئیس، معاون، منشی، اعضای کمیسیون و رئیس دارالانشاء حین تصدی وظیفه، حق اشتراک در فعالیت های سیاسی و نظامی و اشتغال به وظایف دولتی و غیر دولتی را ندارند.

اشتغال به امور تدریسی در مؤسسات تعلیمی و تحصیلی که مانع اجرای وظیفه نگردد، از این حکم مستثنی می باشد.

## د کمېسيون دغړيتوب شرايط

**اوومه ماده:**

هغه شخص د کمېسيون د غړي په توګه ټاکل کېدای شي چې د لاندې شـــرايطو لرونکی وي:

۱ – يوازې د افغانستان تابعيت لرل.

۲ – لږ تر لږه د لېسانس د لوړو زده کړو لرل.

۳ – د اهليت، نېک شهرت او په دولتي او غير دولتي ادارو کې لږ تر لږه د پنځو کلونو کاري تجربې لرل .

۴- لږ تر لږه د پنځه دېرش کلنۍ عمـــر بشپړول.

۵- په بشري ضد جرمونـــو او جنايـــت باندې نه محکوميت.

٦ – د دندې د تصدۍ په وخت کې پـــه سياسي ګوندونو کې نه غړيتوب.

## د غوراوي کمېټه او د غړو د ټاکلو دول

**اتمه ماده:**

(۱) د کمېسيون او شکايتونو د کمېسيون د غړيتوب د نوماندانو د سندونو، اهليت

## شرايط عضويت کميسيون

**مادۀ هفتم:**

شخصی به حيث عضو کميسيون تعيين شده می تواند که واجد شـــرايط ذيـــل باشد:

۱- داشتن تنها تابعيت افغانستان.

۲- داشتن تحصيلات عالی حـــد اقـــل لسانس.

۳- داشتن اهليت، شهرت نيک و تجربۀ کاری حد اقل پـــنج ســـال در ادارات دولتی و غير دولتی.

۴- تکميل حد اقل سن ســـی و پـــنج سالگی.

۵- عدم محکوميت به جرايم ضد بشری و جنايت.

٦- عدم عضويت در احزاب سياســـی حين تصدی وظيفه.

## کميتۀ گزينش و طرز تعيين اعضاء کميسيون

**مادۀ هشتم:**

(۱) به منظور بررسی اسناد، اهليـــت و شايستگی کانديدان عضويت کميسيون و

او وړتیا د بررسۍ په منظور د غـــوراوي کمېټه په لاندې جوړښت ســره منځتـــه راځي:

۱- د افغانستان اسلامي جمهوريـــت د سترې محکمې يو غړی، د سترې محکمې د عالي شورې په ټاکنه.

۲- د افغانســـان د بشـــر د حقوقـــو د خپلواک کمېسيون يو غـــړی، د هغـــه کمېسيون په ټاکنه.

۳- د افغانستان اساسي قانون پر پلـــي کېدو د څارنې د خپلواک کمېسيون يـــو غړی، د هغه کمېسيون په ټاکنه.

۴- د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسيون د ملکي خدمتونو د تعييناتو د بورد يو غړی، د هغه بورد پـــه ټاکنه.

۵- د ټاکنو اړونـــد د مـــدني ټـــولنې د بنسټونو يو تن ټاکل شوی استازی.

٦- د ښځو له فعالينو څخه يـــو تـــن، د ښځو د حقوقو مدافع مـــدني ټـــولنې د بنسټونو په ټاکنه.

۷- د رسنيزو بنسټونو يو تن ټاکل شوی استازی.

کميســـــيون شــــکايات، کميتـــــهٔ گـــزينش بـــه ترکيـــب ذيـــل ايجـــاد می گردد:

۱- يک عضو ستره محکمهٔ جمهـــوری اسلامی افغانستان، به انتخاب شـــورای عالی ستره محکمه.

۲- يک عضو کميسيون مستقل حقوق بشرافغانســـتان، بـــه انتخـــاب آن کميسيون.

۳- يک عضو کميسيون مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی افغانستان، بـــه انتخاب آن کميسيون.

۴- يک عضو بورد تعيينات خـــدمات ملکی کميسيون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکـــی، بـــه انتخـــاب آن بورد.

۵- يک تن نمايندهٔ منتخب نهاد هـــای جامعهٔ مدنی مرتبط به انتخابات.

٦- يک تن از فعالين زن بـــه انتخـــاب نهاد های جامعهٔ مدنی مـــدافع حقـــوق زن.

۷- يک تن نمايندهٔ منتخب نهادهـــای رسانه ئی.

(۲) د غوراوي کمېټې لومړنۍ غونډه د هغه د لوړ عمر لرونکي غړي تر رياست لاندې جوړېږي او د کمېټې رئيس د هغه د غړو په واسطه ټاکل کېږي.

(۳) د دغه قانون په اوومه ماده کې درج شويو شرايطو لرونکي شخصيتونه کولای شي ځانونه د کمېسيون غړيتوب ته کانديد (نوماند) او خپل لنډ سوانح د هغه مودې په ترڅ کې چې د غوراوي کمېټې له خوا اعلانېږي، يادې کمېټې ته وسپاري.

(۴) ددې قانون په (۳) فقره کې د درج اشخاصو تحصيلي او تابعيت سندونه د اړوندو مراجعو له تأييد وروسته د غوراوي کمېټې له خوا منل کېږي.

(۵) د غوراوي کمېټه د نوماند شويو اشخاصو له منځه يو ويشت تنه چې تر ټولو لوړ او مناسب قانوني معيارونه ولري، د ملي مشارکت او جنسيتي ترکيب په توافق او پام کې نيولو سره، د هغې نېټې له ختمېدو څخه وروسته چې د لنډو سوانحو د ترلاسه کولو له پاره ټاکلې، د يوې مياشتې مودې په ترڅ کې په ليکلي ډول جمهوري رياست ته ورپېژني.

(۲) نخستين جلسهٔ کميتهٔ گزينش تحت رياست مسن ترين عضو آن داير و رئيس کميته، توسط اعضای آن انتخاب می گردد.

(۳) اشخاص واجد شرايط مندرج مادهٔ هفتم اين قانون ميتوانند، خود را به عضويت کميسيون کانديد و خلص سوانح شان را درخلال مدتی که از طرف کميتهٔ گزينش اعلان می شود، به کميتهٔ مذکور تسليم نمايند.

(۴) اسناد تحصيل و تابعيت اشخاص مندرج فقرهٔ (۳) اين ماده بعد از تائيد مراجع ذيربط از طرف کميتهٔ گزينش پذيرفته می شود.

(۵) کميتهٔ گزينش از ميان اشخاص کانديد شده به تعداد بيست و يک تن را که دارای بلند ترين و مناسب ترين معيارهای قانونی باشند با توافق و با رعايت مشارکت ملی و ترکيب جنسيتی بعد از ختم تاريخ ايکه برای دريافت خلص سوانح تعيين نموده، در خلال مدت يکماه طور کتبی به رياست جمهوری معرفی می نمايد.

(٦) په اختلافي مواردو کې د رأیو اکثریت معتبر دی.

(۷) جمهور رئیس د یو ویشتو پېژندل شویو نوماندانو له منځه ۷ تنه چې لږ تر لږه دوه تنه یې ښځې وي دکمېسیون د غړو په توګه د یوې دورې لپاره په لاندې ترتیب سره ټاکي:

۱- درې غړي د پنځو کلونو مودې له پاره.

۲- څلور غړي د دریو کلونو مودې له پاره.

(۸) د غوراوي کمېټه خپلې غونډې د هغه ځانګړې کړنلارې مطابق چې د کمېټې په واسطه تصویبېږي، په علني ډول دایروي.

(۹) په دې ماده کې د درج شوو حکمونو مطابق، د کمېسیون غړي د راتلونکو دورو له پاره د پنځو کلونو مودې له پاره ټاکل کېږي.

تحلیف

نهمه ماده:

د کمېسیون غړي، د موقف تر احراز مخکې، د جمهور رئیس او ملي شورىٰ د

(٦) درموارد اختلافی اکثریت آراء معتبر است.

(۷) رئیس جمهور از میان بیست و یک تن کاندید معرفی شده، هفت تن را که حد اقل دو تن آن زن باشد، بحیث اعضای کمیسیون برای یک دوره به ترتیب ذیل تعیین می نماید:

۱- سه عضو برای مدت پنج سال.

۲- چهارعضو برای مدت سه سال.

(۸) کمیتهٔ گزینش جلسات خود را طبق طرزالعمل جداگانه که توسط کمیته تصویب می شود طور علنی دایر می نماید.

(۹) اعضای کمیسیون برای دوره های بعدی طبق احکام مندرج این ماده برای مدت پنج سال تعیین می گردند.

تحلیف

مادهٔ نهم:

اعضای کمیسیون قبل از احراز موقف، تحلیف آتی را در حضور رئیس جمهور

دواړو جرګو د رئيسانو پـر وړانـدې د ستړې محکمې د رئيس په واسطه لاندې تحليف پر ځای کوي:

د لوی خدای(ج) په نامه سوګند يـادوم چې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د غړي په توګه را سپارل شوې دندې د افغانستان د اساسي قانون او نورو قوانينو د حکمونو مطابق په رښتينولۍ، ايمانداری، خپلواکۍ، بشپړې بې طرفۍ او ناپلوۍ سره سـرته رسوم.

## دکمېسيون د غړيتـوب لـه لاسـه ورکولو حالتونه

لسمه ماده:

(۱) د کمېسيون غړی په لاندې حـالاتو کې خپل غړيتوب له لاسه ورکوي:

۱- د مضاعف تابعيت د لرلو ثابتېدل.

۲- په تحصيلي سندونو او مدرکونو کې د تزوير ثابتېدل.

۳ - د واکمنې محکمې په حکم له مدني حقوقو څخه محروميت.

۴- د جنحې، جنايت جرمونو يا انتخاباتي سرغړونو په ارتکاب محکوميت.

۵ – استعفأ

و رؤسای مجلسين شورای ملی توسـط رئـيس سـتره محکمـه بـه جـا می آورند:

بنام خداوند بزرگ (ج) سـوگند يـاد ميکنم که تمام وظايف محوله را منحيث عضو کميسيون مستقل انتخابات بـا صداقت، ايمانداری، استقلال، بی طرفی کامل و غير جانبدارانه مطابق به احکام قانون اساسی افغانستان و ساير قوانين کشور انجام دهم.

## حالات از دسـت دادن عضـويت کميسيون

مادۀ دهم:

(۱) عضو کميسيون در حـالات ذيـل عضويت خويش را از دست می دهد:

۱- اثبات داشتن تابعيت مضاعف.

۲- اثبات تزوير در اسناد و مـدارک تحصيلی .

۳- حرمان از حقوق مدنی بـه حکـم محکمۀ ذيصلاح.

۴- محکوميت به ارتکاب جرايم جنحه، جنايت يا تخلفات انتخاباتی.

۵- استعفأ.

٦- په کمېسيون کې د غړيتوب پر وخت په سياسي ګوندونو کې د شموليت ثابتېدل.

۷- د افغانستان د اساسي قانون، د ټاکنو د قانون، دغه قانون او د هېواد د نورو نافذه قوانينو د حکمونو نقض کول.

۸- په صعب العلاج يا دوامداره ناروغۍ باندې اخته کېدل چې د دندې د اجراء خنډ شي.

۹- د قانوني مؤجه دليلونو پرته له شلو ورځو څخه زيات مسلسل غيابت.

۱۰- د دې قانون په ديارلسمې مادې کې د درج شوي حکم نه رعايت.

(۲) د کمېسيون هر غړی کولای شي، خپله استعفاء په ليکلي ډول جمهور رئيس ته وړاندې کړي .

(۳) د کمېسيون د يوه يا څو غړو د مړينې يا د غړيتوب د لاسه ورکولو په حالتونو کې جمهور رئيس د يوې مياشتې په ترځ کې، د دې قانون د اتمې مادې په (۵) فقره کې د درج شوو پاتې غړو له منځه د ملي مشارکت او جنسيتي ترکيب په پام کې نيولو سره د دې قانون له

٦ - اثبات شمولیت در احزاب سیاسی حین عضویت در کمیسیون.

۷- نقض احکام قانون اساسی افغانستان، قانون انتخابات، این قانون و سایر قوانین نافذۀ کشور.

۸- مبتلا شدن به مریضی صعب العلاج یا دوامدار که مانع اجرای وظیفه گردد.

۹- غیابت مسلسل اضافه از بیست روز بدون دلایل مؤجه قانونی .

۱۰- عدم رعایت حکم مندرج مادۀ سیزدهم این قانون.

(۲) هریک از اعضای کمیسیون میتواند استعفای خویش را کتباً به رئیس جمهور ارائه نماید.

(۳) درصورت وفات یا حالات از دست دادن عضویت یک و یا چند عضو کمیسیون، رئیس جمهور، عضو یا اعضای جدید را درخلال مدت یکماه از میان اعضای باقیماندۀ مندرج فقرۀ (۵) مادۀ هشتم این قانون با رعایت مشارکت ملی و ترکیب جنسیتی مطابق

حکمونو سره سم، نوی غړی يا غړي ټاکي.

(۴) په هغه صورت کې چې رئيس، مرستيال او منشي خپل غړيتوب له لاسه ورکړي، د دې قانون د پنځمې مادې د (۲) فقرې د حکم له مخې د خدمت د دورې د پاتې مودې لپاره د کمېسيون د غړو ترمنځ بيا ټاکنې صورت مومي .

**له عدلي تعقيب څخه خونديتوب**

**يوولسمه ماده:**

دکمېسيون غړی د واکمنې محکمې له حکم پرته نيول کېدای، توقيف او تر عدلي تعقيب لاندې راتلای نشي، د مشهود جرم حالات له دې امر څخه مستثنیٰ دي.

**د کمېسيون غونډې**

**دوولسمه ماده:**

(۱) د کمېسيون غونډې د کمېسيون د رئيس په تصميم يا د دريو غړو په وړانديز جوړېدای شي.

(۲) د کمېسيون د غونډو د جوړېدو نصاب د غړو د دوو ثلثو په حضور بشپړ او تصميمونه په غونډه کې د حاضرو غړيو

احکام اين قانون تعيين می نمايد.

(۴) درصورتيکه رئيس، معاون و منشی عضويت خويش را از دست دهد، مطابق حکم فقرهٔ (۲) مادهٔ پنجم اين قانون برای مدت باقيماندهٔ دورهٔ خدمت، انتخابات مجدد بين اعضای کميسيون صورت می گيرد.

**مصئونيت از تعقيب عدلی**

**مادهٔ يازدهم:**

عضو کميسيون بدون حکم محکمهٔ ذيصلاح گرفتار، توقيف و مورد تعقيب عدلی قرار گرفته نمی تواند، حالات جرم مشهود از اين حکم مستثنیٰ است.

**جلسات کميسيون**

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) جلسات کميسيون به تصميم رئيس کميسيون يا پيشنهاد سه عضو داير شده می تواند.

(۲) نصاب تدوير جلسات کميسيون با حضور داشت دو ثلث اعضا تکميل و تصاميم به اکثريت آرای اعضای حاضر

په اکثریت رایو سره نیول کېږي. د رایو د تساوۍ په صورت کې هغه لوری چې د کمېسیون رئیس ورته رأیه ورکوي، معتبر ګڼل کېږي.

(۳) د ټاکنیز تقویم د ټاکلو، د نوماندانو د اسنادو او صلاحیت د بررسۍ، د نوم لیکنې او رایې ورکولو د مرکزونو د شمېر او د هغه د محلونو تعیین او تصدیق، د رای ورکوونکو د فهرست برابرول، د ټاکنیزو حوزو ټاکل، د ټاکنیزو حساسو موادو چاپول او خپرول، د رایو شمېرنه، د پایلو د تصدیق او اعلانولو په مواردو کې د کمېسیون غونډې علني دي، د سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې، ټولیزو رسنیو استازي او ملي او بین المللي څارونکي او کتونکي د اعتبار لیک د لرلو په صورت کې کولای شي د کمېسیون په غونډو کې ګډون وکړي.

## دکمېسیون تصمیمونه او فیصلې

**دیارلسمه ماده:**

د کمېسیون غړي مکلف دي، د تصمیمونو دنیولو په وخت کې، بې طرفي، دهېواد لوړې ګټې، دافغانستان داساسي

جلسه اتخاذ می گردد. درصورت تساوی آراء نظر طرفی که رئیس کمیسیون به آن رأی می دهد، معتبر شناخته می شود.

(۳) جلسات کمیسیون در موارد تعیین تقویم انتخاباتی، بررسی اسناد و صلاحیت کاندیداان، تعیین و تصدیق تعداد مراکز ثبت نام و رأی دهی و تعداد محلات آن، تهیه فهرست رای دهندگان، تعیین حوزه های انتخاباتی، چاپ و نشر مواد حساس انتخاباتی، شمارش آرا، تصدیق و اعلان نتایج، علنی بوده، نمایندگان احزاب سیاسی، جامعه مدنی، رسانه های همگانی، ناظرین و مشاهدین ملی و بین المللی درصورت داشتن اعتبارنامه میتوانند درجلسات کمیسیون اشتراک نمایند.

## تصامیم و فیصله های کمیسیون

**مادۀ سیزدهم:**

اعضای کمیسیون مکلف اند، حین اتخاذ تصامیم، بیطرفی، منافع علیای کشور، احکام قانون اساسی افغانستان، قانون

قانون، دټاکنو د قانون، ددې قانون او د نورو نافذو قوانينو حکمونه په پام کې ونيسي او له هر ډول توکميز، قومي، سيمه ييز، ګوندي، ژبنيز او مذهبي تو پير (تبعيض) او تعصب څخه ډډه وکړي .

## دریيم فصل

## دکمېسيون دندې او واکونه

### دندې او واکونه

څوارلسمه ماده:

(۱) کمېسيون د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- په هېواد کې پر هر ډول ټاکنو او عمومي رايو ته د مراجعې څخه اداره او څارنه.

۲- د ټاکنو د قانون د تطبيق په منظور د اجرائيوي دستورالعملونو تصويبول.

۳ - حکومت ته ددې قانون او دټاکنو قانون د تعديل وړانديز.

۴ -دټاکنو داداري،بودجوي، مديريتي او عملياتي پلانونو تصويبول.

۵- دکمېسيون د دارالانشاء او د

انتخابات، اين قانون و ساير قوانين نافذه را در نظر گرفته و از هر نوع تبعيض وتعصب نژادی، قومی، منطقوی، حزبی، لسانی، مذهبی و جنسيتی اجتناب ورزند.

## فصل سوم

## وظايف و صلاحيت های کميسيون

### وظايف و صلاحيت ها

مادۀ چهاردهم:

(۱) کميسيون دارای وظايف و صلاحيت های ذيل می باشد:

۱- اداره و نظارت بر هر نوع انتخابات و مراجعه به آرای عمومی در کشور.

۲- تصويب دستورالعمل های اجرائيوی به منظورتطبيق قانون انتخابات.

۳- پيشنهاد تعديل اين قانون و قانون انتخابات به حکومت.

۴- تصويب پلان های اداری، بودجوی، مديريتی وعملياتی انتخابات.

۵- نظارت از اجرآآت دارالانشای

کمېسيون د ولايتي دفترونو له اجراآتـو څخه څارنه.

٦- دټاکنيزو کارکوونکو د ښـوونيزو برنامو له جوړېدو څخه څارنه.

۷- درأيې ورکوونکو د نوم ليکلې، د نوم ليکنې د فهرست د برابرولو او نوي کولو له مرحلو څخه څارنه.

۸- په اړوندو ټاکنو کې د نوم ليکل شوو نوماندانو او د رأيې ورکوونکـو د نـوم ليکنې د وروستي فهرست تصديقول.

۹- د ټاکنيزو عمليو لـه پـاره برنامـه جوړول.

۱۰ -د هېواد په کچه دمدني معلوماتو د کمپاين او دعامه پوهاوي (خبرتيا) دبرنامې جوړول.

۱۱- له ډله ييزو رسنيو څخـه دګټـې اخيستنې ددستورالعملونو تصويبول او د ټاکنيزو مبارزو په وخـت کـې دولتـي ډله ييزو رسنيو ته د سياسي ګونـدونو، کانديدانو اومدني ټولنې بنسټونو له عادلانه لاس رسۍ څخه ډاډ تر لاسه کول.

۱۲- له سياسي ګوندونو او خپلواکـو کانديدانو اوپه ټاکنو پورې اړوندو مدني

کميســـيون و دفـــاتر ولايتـــی کميسيون.

٦- نظارت از برگزاری برنامه هـای آموزشی کارکنان انتخاباتی.

۷- نظارت از مراحل ثبت نـام، تهيـه و تجديـد فهرسـت ثبـت نـام رای دهندگان.

۸- تصـــديق فهرســـت کانديـــدان ثبت نام شده درانتخابـات مربـوط و فهرست نهائی ثبت نام رای دهندگان.

۹- برنامه ريزی بـرای عمليـه هـای انتخاباتی.

۱۰- برنامه ريزی کمپـاين معلومـات مـدنی و اگـاهی عامـه در سـطح کشور.

۱۱- تصويب دستورالعمل های استفاده از رسانه های همگانی و حصول اطمينان از دسترسی عادلانه احـزاب سياسی، کانديدان و نهاد های جامعه مدنی بـه رسانه های همگانی دولتی حين مبارزات انتخاباتی.

۱۲- برقراری روابط و حفظ همکاری با احزاب سياسی، کانديدان مسـتقل،

بنسټونو او رسنیوسره داړیکو ټینګول او د همکارۍ ساتل .

۱۳- درأیې ورکولو د نوم لیکنې د مرکزونو، د رایې ورکولو او درأیو شمېرلو د محلونو ټاکل او تصدیقول.

۱۴- د جمهوري ریاست، د جمهوري ریاست مرستیالانو، ملي شورئ، ولایتي شورئ، ولسوالۍ شورئ، کلي شورئ، دښاروالۍ د مجلسونو کاندیدانو او ښاروالانو لپاره د اعتبارلیکونو صادرول.

۱۵- ملي او بین المللي څارونکو او کتونکو، دسیاسي ګوندونو، خپلواکو کاندیدانو، په ټاکنو پورې اړوندو نهادونو او ډله ییزو رسنیو استازو ته د اعتبار لیکونو صادرول .

۱۶- په رسمي توګه د ټاکنو دلومړنیو او وروستنیو پایلو اعلانول.

۱۷- د ټاکنیز تقویم تصویبول.

۱۸- د فرعي ټاکنو د ترسره کولو په منظور د زماني مهال وېش ټاکل.

۱۹- د دارالانشأ د دایمي کارکوونکو له استخدام څخه څارنه.

۲۰ - د ټاکنو په قانون کې د درج شوو

نهاد های جامعه مدنی مرتبط به انتخابات و رسانه ها.

۱۳- تعیین و تصدیق مراکز ثبت نام رای دهی، محلات رای دهی و شمارش آراء.

۱۴- صدور اعتبار نامه برای کاندیدان ریاست جمهوری، معاونین ریاست جمهوری، شورای ملی، شورای ولایتی، شورای ولسوالی، شورای قریه، مجالس شاروالی و شاروالها.

۱۵- صدور اعتبار نامه برای ناظرین و مشاهدین ملی و بین المللی، نمایندگان احزاب سیاسی، کاندیدان مستقل، نهاد های جامعه مدنی مرتبط به انتخابات و رسانه های همگانی.

۱۶- اعلان نتایج ابتدایی و نهایی انتخابات به شکل رسمی.

۱۷- تصویب تقویم انتخاباتی.

۱۸- تعیین تقسیم اوقات زمانی به منظور برگزاری انتخابات فرعی.

۱۹- نظارت از استخدام کارکنان دایمی دارالانشاء.

۲۰- انجام سایر وظایف و صلاحیت

نورو دندو او واکونو ترسره کول.

(۲) کمېسيون د قانون د حکمونومطابق، د رسنيو کمېسيون رامنځته کوي.

(۳) کمېسيون نه شي کولای د ټاکنيزو عملياتو په بهير کې د ټاکنو په پروسې پورې اړوندې لايحې، کړنلارې او دستورالعملونه تعديل کړي.

(۴) کمېسيون دحکومت په مشوره خپله بودجه برابره، ترتيبوي او په لګولو کې يې خپلواک دی، د هغه د عوايدو او لګښتونو کلنی رپوټ د ماليې وزارت ته وړاندې کوي.

(۵) د ټاکنو وروستۍ پايلې چې ترلاسه شوو اعتراضونو او شکايتونو ته د رسيدګۍ څخه وروسته، ددې قانون د حکمونو مطابق اعلانېږي، د بدلون (تغيير) وړ نه دي.

(٦) کمېسيون مکلف دی، د ټاکنو له ټول بهير څخه (د ټاکنو له تر سره کېدو مخکې د ټاکنو له ترسره کېدو او د ټاکنو د لومړنيو او وروستيو پايلو له اعلان وروسته) خلکوته د ټوليزو رسنيو له لارې، رپوټ وړاندې کړي.

های مندرج در قانون انتخابات.

(۲) کميسيون طبق احکام قانون، کميسيون رسانه ها را ايجاد می نمايد.

(۳) کميسيون نمی تواند، درجريان عمليات انتخاباتی لوايح، طرزالعمل ها و دستورالعمل های مربوط به پروسۀ انتخابات را تعديل نمايد.

(۴) کميسيون بودجه خويش را در مشوره با حکومت تهيه، ترتيب و درمصرف آن مستقل بوده، گزارش سالانه عوايد و مصارف آن را به وزارت ماليه ارائه می نمايد.

(۵) نتايج نهايی انتخابات که بعد از رسيدگی به اعتراضات و شکايات واصله مطابق احکام اين قانون اعلان می گردد، غير قابل تغيير است.

(٦) کميسيون مکلف است، از تمام روند انتخابات (قبل ازبرگزاری انتخابات، بعد از برگزاری انتخابات و اعلام نتايج ابتدائی و نهائی انتخابات) از طريق رسانه های همگانی به مردم گزارش ارائه نمايد.

**دکمېسیون درئیس دندې او واکونه**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) د کمېسیون رئیس د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د کمېسیون د غونډو ریاست کول.

۲- د کمېسیون د فعالیتونو عمومي رهبري.

۳- د کمېسیون د بودجې له تطبیق څخه څارنه.

۴- د کمېسیون د دارالانشاء د فعالیتونو څارنه او بررسي.

۵- په کورنیو او بهرنیو اړوندو ادارو کې له کمېسیون څخه استازیتوب.

٦- د دې قانون د موخو او حکمونو د تطبیق لپاره د امرونو او هدایاتو صادرول.

(۲) د کمېسیون درئیس په غیاب کې د هغه دندې او واکونه دهغه مرستیال ترسره کوي.

**دارالانشاء**

**شپاړسمه ماده:**

(۱) کمېسیون د اداري او اجرائیوي چارو

**وظایف و صلاحیت های رئیس کمیسیون**

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) رئیس کمیسیون دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- ریاست از جلسات کمیسیون.

۲- رهبری عمومی فعالیت های کمیسیون.

۳- نظارت از تطبیق بودجه کمیسیون .

۴- نظارت و بررسی فعالیت های دارالانشای کمیسیون .

۵ - نمایندگی از کمیسیون، در ادارات ذیربط داخلی و خارجی .

٦- صدور اوامر و هدایات در جهت تطبیق اهداف و احکام این قانون.

(۲) درغیاب رئیس کمیسیون، وظایف و صلاحیت های وی را معاون آن اجراء می نماید.

**دارالانشاء**

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) کمیسیون به منظور پیشبرد امور

د پر مخ بيولو په منظـــور د دارالانشـــاء لرونکی دی چې په سر کې يې رئيس ځای لري.

(۲) د دارالانشاء رئيس د کمېســيون د غړو د اکثريت په توافــق وړانــديز او د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تر منظورۍ وروسته مقررېږي.

د کمېسيون د دارالانشاء نور مامورين او کارکوونکي، د معلوليت لرونکو اشخاصو د ټاکلې فيصدۍ په پام کې نيولو سره د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون او د معلولينو د حقوقو او امتيازونو د قانون د حکمونو مطابق استخدامېږي.

(۳)دارالانشاء خپلې دندې د قــانون د حکمونو او هغوکړنلارو مطــابق ســرته رسوي چــې د کمېســيون لــه خــوا تصويبېږي.

## دکارکوونکو استخدام

**اووه لسمه ماده:**

(۱) په مرکز او ټاکنيزو محلونو کــې د ټاکنو مؤقت کارکوونکي د ښوونځيو د ښوونکو، د دولتــي لــوړو زده کــړو د مؤسســو اســتادان او د دولـــتي

اداری و اجرائيوی دارای دارالانشـــاء می باشدکه در رأس آن رئـــيس قـــرار دارد.

(۲) رئيس دارالانشاء به توافق اکثريت اعضای کميسيون پيشــنهاد و بعــد از منظوری رئـــيس جمهـــوری اســـلامی افغانســـتان مقـــرر مـــی گـــردد.

سايرمـــامـــوريـــــن و کارکنـــان دارالانشای کميسيون بـــا نظرداشـــت فيصدی معين از اشخاص دارای معلوليت مطابق احکام قانون کارکنان خـــدمات ملکی و قـــانون حقـــوق و امتيـــازات معلولين، استخدام می گردند.

(۳) دارالانشاء وظايف خود را طبـــق احکام قانون و طرزالعمل هايی کـــه از طرف کميسيون تصويب مـــی گـــردد، اجراء می نمايد.

## استخدام کارکنان

**مادۀ هفدهم:**

(۱) کارکنان مؤقت انتخابات در مراکز و محلات انتخاباتی از مـــيان معلـــمين مکاتب، استادان مؤسسات تحصـــيلات عالی دولتی و کارکنان ادارات دولتـــی

ادارو كاركوونكي د هغې كړنلارې مطابق استخدامېږي چې د كمېسيون لــه خــوا وضع كېږي.

(۲) كمېسيون د ټاكنو هغه شمېر مؤقت او دايمي كاركوونكي چې د ټاكنو قانون، دغــه قــانون او نــور اړونــد نافــذه قوانين نقض كړي، له خپلو دندو څخــه ګوښــه او عــدلي ارګــانونو تــه ورپېژني.

## دكړو وړو(سلوک) دډول په پام کې نيول

**اتلسمه ماده:**

دټاكنو دايمي او مؤقــت كــاركوونكي مكلف دي، خپلې دندې دملکي خدمتونو د مامورينو د سلوک دډول دمقــررې د حکمونو مطابق سرته ورسوي.

## داستخدام خنډونه (موانع)

**نو لسمه ماده:**

(۱) دسياسي ګونــدونو دمســئولينو او ټاکنيزو نوماندانو استخدامول د ټاكنود دايمي يامؤقت كاركوونكو په توګه، جواز نه لري.

طبق طرزالعملی كه از طرف كميسيون وضــــع مــی گـــــردد، اســـتخدام می شوند.

(۲) كميسيون آن عده كاركنان دايمی و مؤقــت انتخابــات را كــه قــانون انتخابات، اين قانون وساير قوانين نافذهٔ مرتبط را نقض نمايند، از وظايف شــان سبكدوش و به مراجع عدلی و قضــائی معرفی می نمايد.

## رعــــــايـــــــت طــــــــرز سلوک

**مادهٔ هجدهم:**

كاركنان دايمی و مؤقــت انتخابــات مكلف اند، وظايف محولــه را مطــابق احكام مقررهٔ طرز ســلوک مــامورين خدمات ملكی انجام دهند.

## موانع استخدام

**مادهٔ نزدهم:**

(۱) استخدام مسئولين احزاب سياسی و كانديدان انتخاباتی به حيث كاركنان دايمی يا مؤقــت انتخابــات، جــواز ندارد.

(۲) دټاکنو دايمي يا مؤقت کارکوونکي، ددندې دتصدۍ په وخت کې نشي کولای ځان کانديد کړي.

(۳) د کانديدانو پلار، مور، نيکه، نيـــا، اولاد، ورور، خور، خاونـــد او ښـــځه حق نه لـــري دټاکنوکـــارکوونکو پـــه توګه په هغو اجرائيوی واکونو سره چې دکمېسيون له خوا مشخصېږي، په اړونده ټـــاکنيزه حـــوزه کـــې دنـــده ترســـره کړي.

## څلورم فصل

## د شکايتونو د کمېسيون تشکيل، دندې او واکونه

### د شکايتونو مرکزي کمېسيون

**شلمه ماده:**

(۱) د ټاکنو اړوند چارو له ســـرغړاوي، سرغړونې او درغليو څخه راپيدا شـــوو اعتراضونو او شکايتونو ته د رسيدګۍ په منظور، ددې قانون د حکمونو مطابق، د شکايتونو مرکزي کمېسيون جوړېږي.

(۲) د شکايتونو مرکزي کمېسيون لـــه پنځو غړو څخه جوړ دی چې ددې مادې

(۲) کارکنان دايمی يا مؤقت انتخابات حين تصدی وظيفه نمـــی توانند، خود را کانديد نمايند.

(۳) پدر، مادر، پدرکلان، مادر کـــلان، اولاد، برادر، خـــواهر، زوج و زوجـــهٔ کانديدان، حق ندارند به حيث کارکنان انتخابات؛ با صلاحيت های اجرائيـــوی که توسط کميسيون مشخص می گردد، در حوزهٔ انتخاباتی مربوط ايفای وظيفه نمايند.

## فصل چهارم

## تشکيل، وظايف و صلاحيت های کميسيون شکايات

### کميسيون مرکزی شکايات

**مادهٔ بيستم:**

(۱) به منظور رسيدگی به اعتراضات و شکايات ناشی از تخطی، تخلف و تقلب مربوط به امور انتخابـــات، کميســـيون مرکزی شکايات مطابق احکام اين قانون تشکيل می گردد.

(۲) کميسيون مرکزی شکايات مرکب از پنج عضو می باشد، که طبق احکـــام

د حکمونو مطابق ټاکل کېږي.

(۳) ددې قانون په اوومه ماده کې درج د شرايطو لرونکي اشخاص چې لږ تر لږه په حقوقي او فقهي علومو کې د لوړو تحصيلاتو لرونکي وي، کولای شي ځانونه د شکايتونو د کمېسيون غړيتوب ته نوماند کړي اوخپلې لنډې سوانح ددې قانون د اتمې مادې په (۱) فقره کې درج د غوراوي کمېټې ته وسپاري.

(۴) د غوراوي کمېټه ددې مادې په (۳) فقره کې درج اشخاصو له منځ څخه، پنځلس تنه د تر ټولو لوړو معيارونو، ملي مشارکت او جنسيتي ترکيب په پام کې نيولو سره ټاکي او جمهور رئيس ته وړانديزوي.

(۵) جمهور رئيس د پنځلسو تنو وړانديز شوو اشخاصو له منځ څخه، پنځه تنه د ملي مشارکت او جنسيتي ترکيب په پام کې نيولو سره، د شکايتونو د مرکزي کمېسيون د غړو په توګه، په لاندې ترتيب سره ټاکي:

۱- دوه تنه د پنځو کلونو مودې له پاره.

۲- دري تنه د دريو کلونو مودې له پاره.

اين ماده تعيين می گردد.

(۳) اشخاص واجد شرايط مندرج مادۀ هفتم اين قانون که حد اقل دارای تحصيلات عالی در علوم حقوقی يا فقهی باشند، ميتوانند خود را به عضويت کميسيون شکايات کانديد و خلص سوانح شان را به کميتۀ گزينش مندرج فقرۀ (۱) مادۀ هشتم اين قانون تسليم نمايند.

(۴) کميتۀ گزينش از ميا ن اشخاص مندرج فقرۀ (۳) اين ماده، پانزده تن را با نظرداشت عاليترين معيارها، مشارکت ملی و ترکيب جنسيتی تعيين و به رئيس جمهور پيشنهاد می نمايد.

(۵) رئيس جمهور از ميان پانزده تن اشخاص پيشنهاد شده، پنج تن را بانظرداشت مشارکت ملی و ترکيب جنسيتی به حيث اعضای کميسيون مرکزی شکايات به ترتيب ذيل تعيين می نمايد:

۱- دو تن برای مدت پنج سال.

۲- سه تن برای مدت سه سال.

(۶) د ټاکنیزو سرغړاوي، سرغړونې او درغلیو څخه راپیدا شوو اعتراضونو او شکایتونو ته د رسیدګۍ په لاره کې د لازیات شفافیت د راوستلو په منظور، حکومت کولای شي د ملګرو ملتونو له سازمان څخه غوښتنه وکړي تر څو د ټاکنو د چارو دوه تنه بین المللي متخصصین دشکایتونود مرکزي کمېسیون د رایې د حق پرته د غړو په توګه وروپېژني.

(۷) د شکایتونو د مرکزي کمېسیون رئیس، مرستیال او منشي خپله د هغوی په واسطه د آزادې، پټې او مستقیمې رایې پر بنسټ د غړو له منځ څخه د کړنلارې مطابق، غوره کېږي.

(۸) د شکایتونو د مرکزی کمېسیون غړي، په دې ماده کې د درج شوو حکمونو مطابق، د راتلونکو دورو له پاره، د پنځو کلونو مودې له پاره ټاکل کېږي.

## د شکایتونو ولایتي کمېسیونونه

**یوویشتمه ماده:**

(۱) د ټاکنو اړوند چارو له سرغړاوي، سرغړونې او درغلیو څخه راپیدا شوو

(۶) به منظورتأمین شفافیت بیشتر در رسیدگی به اعتراضات و شکایات ناشی از تخطی، تخلف و تقلب انتخاباتی، حکومت میتواند، از سازمان ملل متحد تقاضا نماید تا دو تن از متخصصین بین المللی امور انتخابات را به حیث اعضای بدون حق رأی کمیسیون مرکزی شکایات معرفی نماید.

(۷) رئیس، معاون و منشی کمیسیون مرکزی شکایات از میان اعضاء توسط خود آنها به اساس رأی آزاد، سری و مستقیم طبق طرزالعمل انتخاب می شوند.

(۸) اعضای کمیسیون مرکزی شکایات برای دوره های بعدی طبق احکام مندرج این ماده برای مدت پنج سال تعیین می گردند.

## کمیسیون های ولایتی شکایات

**مادۀ بیست ویکم:**

(۱) به منظور رسیدگی به اعتراضات و شکایات ناشی از تخطی،

اعتراضونو او شکایتونو ته د رسیدګۍ په منظور، د شکایتونو ولایتي کمېسیونونه د نوماندانو له نوم لیکنې څخه یوه میاشت مخکې، په لاندې ترکیب سره رامنځته کېږي:

۱- د شکایتونو د مرکزي کمېسیون استازی، د رئیس په توګه.

۲- د کمېسیون استازی د غړي په توګه.

۳- د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسیون استازی، د غړي په توګه.

(۲) د شکایتونو ولایتي کمېسیونونه مکلف دي، د اړوندې حوزې د ټاکنیزي سرغړاوي، سرغړونې او درغلیو څخه راپیدا شوي اعتراضونه او شکایتونه د دوو اونیو مودې په ترځ کې تر رسیدګۍ لاندې ونیسي او له خپلو کړنو څخه د شکایتونو مرکزي کمېسیون ته رپوټ وړاندې کړي.

(۳) د شکایتونو کمېسیون مکلف دی، د ټاکنیزو سرغړاوي، سرغړونې او درغلیو څخه د راپیدا شوو اعتراضونو او شکایتونو د رسیدګۍ په اړوند خلکو ته د

تخلف و تقلب مربوط به امور انتخابات کمیسیون های ولایتی شکایات یک ماه قبل ازثبت نام کاندیدان به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- نمایندۀ کمیسیون مرکزی شکایات، به حیث رئیس.

۲- نمایندۀ کمیسیون، به حیث عضو.

۳- نمایندۀ کمیسیون مستقل حقوق بشرافغانستان، به حیث عضو.

(۲) کمیسیون های ولایتی شکایات مکلف اند، اعتراضات و شکایات ناشی از تخطی، تخلف و تقلب انتخاباتی حوزه مربوط را در خلال مدت دو هفته مورد رسیدگی قرار داده و از اجرآات خویش به کمیسیون مرکزی شکایات گزارش ارائه نمایند.

(۳) کمیسیون شکایات مکلف است، در رابطه به رسیدگی اعتراضات و شکایات ناشی از تخطی، تخلف و تقلب انتخاباتی از طریق رسانه های همگانی به مردم

رسنيو له لارې، رپوټ وړاندې کړي.

(۴) د شکايتونو ولايتي کمېسيونونه د ټاکنو د پايلو له تصديق او اعلان وروسته، تر يوې مياشتې مودې پورې خپل کار پای ته رسوي او له انحلال وروسته د هغوی واکونه د شکايتونو مرکزي کمېسيون ته، لېږدېږي.

## د شکايتونو دکمېسيون دارالانشاء

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) د شکايتونو مرکزي کمېسيون د دارالانشاء لرونکی دی چې په راس کې يې آمر ځای لري.

(۲) د دارالانشاء آمر د شکايتونو د مرکزي کمېسيون د اکثريت غړو په توافق او د هغه د رئيس په منظورۍ مقررېږي.

(۳) دارالانشاء خپلې دندې د هغې کړنلارې مطابق سرته رسوي چې د شکايتونو د مرکزي کمېسيون له خوا تصويبېږي.

## د کارکوونکو استخدام

**درويشتمه ماده:**

د شکايتونو د مرکزي کمېسيون د دارالانشاء مامورين او کارکوونکي ددې

گزارش ارائه نمايد.

(۴) کميسيون های ولايتی شکايات بعد از تصديق و اعلان نتايج انتخابات الی مدت يک ماه کار خويش را پايان داده و بعد از انحلال صلاحيت های آن ها به کميسيون مرکزی شکايات منتقل می گردد.

## دارالانشای کميسيون شکايات

**مادۀ بيست و دوم:**

(۱) کميسيون مرکزی شکايات دارای دارالانشاء می باشد که درراس آن آمر قرار دارد.

(۲) آمر دارالانشاء به توافق اکثريت اعضای کميسيون مرکزی شکايات و منظوری رئيس آن مقرر می گردد.

(۳) دارالانشاء وظايف خود را طبق طرزالعملی که از طرف کميسيون مرکزی شکايات تصويب می گردد، اجراء می نمايد.

## استخدام کارکنان

**مادۀ بيست وسوم:**

مامورين وکارکنان دارالانشای کميسيون مرکزی شکايات با

قانون د شپاړسمې مادې په (۲) فقره او اووه لسمه ماده کې د درج شوو حکمونو له په پام کې نیولو سره، ګمارل کېږي.

## پنځم فصل

## متفرقه حکمونه

امنیتي خوندیتوب

**څلېریشتمه ماده:**

د کورنیو چارو وزارت او نورې اړوندې امنیتي مراجع، د کمېسیون، د شکایتونو مرکزي او ولایتي کمېسیونونو د غړو او په هغو پورې د اړوندو دفترونو د امنیت او ساتنې د تأمین په منظور، لازم تدبیرونه نیسي.

خپرونه، نښان او مهر

**پنځه ویشتمه ماده:**

کمېسیون او د شکایتونو مرکزي کمېسیون د ځانګړې خپرونې، نښان او مهر لرونکي وي.

د نافذېدو نېټه

**شپږویشتمه ماده:**

دغه قانون دتوشېح له نېټې څخه نافذ اوپه رسمي جریده کې دې خپورشي. د

رعایت احکام مندرج فقره (۲) مادهٔ شانزدهم و مادهٔ هفدهم این قانون استخدام می گردند.

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

مصئونیت امنیتی

**مادهٔ بیست وچهارم:**

وزارت امور داخله و سایر مراجع ذیربط امنیتی به منظور تأمین امنیت و حفاظت اعضای کمیسیون، کمیسیون های مرکزی و ولایتی شکایات و دفاتر مربوط آنها تدابیر لازم را اتخاذ می نمایند.

نشریه، نشان و مهر

**مادهٔ بیست وپنجم:**

کمیسیون و کمیسیون مرکزی شکایات دارای نشریه، نشان و مهر مخصوص می باشد.

تاریخ انفاذ

**مادهٔ بیست وششم:**

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد. با انفاذ آن،

هغه په نافذېدو سره د ۱۳۹۲ هـــــ. ش کال په (۱۱۱۲) ګڼه رسمي جريده کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د شکايتونو د خپلواک کمېسيون د تشکيل، دندو او واکونوخپور شوی قانون او د هغه نـــور مغاير حکمونه، لغو کېږي.

قانون تشکيل، وظايف و صلاحيت های کميسيون مستقل انتخابات و کميسيون مستقل شکايات انتخاباتی منتشرۀ جريدۀ رســـمی شـــماره (۱۱۱۲) ســـال ۱۳۹۲هــ ش و ساير احکام مغاير آن ملغی می گردد.

**د ټاکنو د قانون په ځینو مادو کې د تعدیل او ایزاد د توشېح په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس تقنیني فرمان**

ګڼه: (۸۴)

نېټه: ۱۵/ ٦/ ۱۳۹۴

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اویایمې مادې د حکم له مخې، د ټاکنو د قانون په ځینو مادو کې تعدیل او ایزاد چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د۱۴/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې (۲۱) ګڼې مصوبې پربنسټ تصویب شوي دي، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شورې د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰ ) ورځو په ترڅ کې هغې شورې ته وړاندې کړي.

**دریمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او

**فرمان تقنینی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون انتخابات**

شماره: (۸۴)

تاریخ: ۱۳۹۴/٦/۱۵

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون انتخابات را که به اساس مصوبۀ شماره (۲۱) مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۱۴ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

**مادۀ دوم:**

وزیر عدلیه و وزیر دولت درامور پارلمانی مؤظف اند، این فرمان را در خلال مدت (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی به آن شوری تقدیم نمایند.

**مادۀ سوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه

د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او د نوموړي قانون د تعدیل او ایزاد سره یوځای دې، په رسمي جریده کې خپاره شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

با مصوبۀ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان و تعدیل و ایزاد قانون مذکور در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د ټاکنو د قانون په ځينو مادو کې د تعديل او ايزاد په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې**

**مصوبه**

**ګڼه: (۲۱)**

**نېټه: ۱۴/ ٦/ ۱۳۹۴**

**د ټاکنو د قانون په ځينو مادو کې د تعديل او ايزاد طرحه چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۴/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې په غونډه کې په (۳) مادو کې تصويب شوې ده ، منظوروم.**

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبهٔ**

**کابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون انتخابات**

**شماره: (۲۱)**

**تاريخ: ۱۳۹۴/٦/۱۴**

**طرح تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون انتخابات را که در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۱۴ کابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۳) ماده تصويب گرديده است، منظور می دارم.**

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د ۱۳۹۲ هـ. ش کال په (۱۱۱۲) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي د ټاکنو د قانون په ځينو مادو کې تعديل او ايزاد

**لومړۍ ماده:**

د ټاکنو د قانون د دريیمې مادې (۲) فقره، د څلورمې مادې (۶ او ۸) اجزاوې، شپږمه ماده، د اوومې مادې (۳) فقره، د لسمې مادې دوه يم جزء، يوويشتمه ماده، د دېرشمې مادې (۲) فقره، څلورڅلوېښتمه ماده او اووه پنځوسمه ماده دې په لاندې ډول تعديل شي:

۱- د دريیمې مادې (۲) فقره:

(۲) د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون له دې وروسته په دې قانون کې د شکايتونو کمېسيون په نوم يادېږي.

۲- د څلورمې مادې (۶ او ۸) اجزاوې:

۶- د رای ورکوونکو فهرست: هغه جدول دی چې د رايې د شرطونو لرونکو اشخاصو پېژندنه ( شهرت) او د رای ورکولو د مرکز کود په هغه کې درج او

## تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون انتخابات منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره ( ۱۱۱۲) سال۱۳۹۲ هـ. ش

**مادۀ اول:**

فقرۀ (۲) مادۀ سوم، اجزای (۶و ۸ ) مادۀ چهارم، مادۀ ششم، فقرۀ (۳)مادۀ هفتم، جزء (۲) مادۀ دهم، مادۀ بيست ويکم، فقرۀ(۲) مادۀ سی ام، مادۀ چهل و چهارم و مادۀ پنجاه و هفتم قانون انتخابات ذيلاً تعديل گردد:

۱- فقرۀ(۲) مادۀ سوم:

(۲) کميسيون شکايات انتخاباتی منبعد در اين قانون بنام کميسيون شکايات ياد می گردد.

۲- اجزای (۶ و۸) مادۀ چهارم:

۶- فهرست رأی دهندگان: جدولی است که شهرت اشخاص واجد شرايط رأی دهی و کود مرکز رأی دهی در آن درج و در مرکز

د کمېسيون د معلوماتو په اړوند مرکز (ديتابېس) کې شامليږي.

۸- د رايې ورکولو ځای (محل): هغه ځای دی چې د رايې ورکونې د مرکزونو په دننه کې د رايې د حق د کارولو په منظور، مشخصيږي.

## نوم ليکنه او رايه ورکونه

۳- شپږمه ماده:

(۱) د رايې د شرطونو لرونکي شخصاً د رايې ورکونې مرکز ته حاضريږي او د تابعيت دتذکرې پر بنسټ خپل نوم د رايې ورکوونکو په فهرست کې ثبت کړي.

(۲) هېڅ شخص نشي کولای له يو ځل څخه زيات خپل نوم د نوم ليکنې په مرکزونو کې د رايې ورکوونکو په نوم لړ کې ثبت کړي.

(۳) رايه ورکوونکی مکلف دی، د رايې ورکونې په هغه مرکز کې چې مخکې د هغه نوم د رايې ورکوونکو په نوم لړ کې درج شوی دی، رايه ورکړي.

(۴) رايه ورکوونکی مکلف دی، د رايې ورکونې د پاڼې د ترلاسه کولو له پاره، د تابعيت تذکره يا هغه سند چې د کمېسيون

معلومات (ديتابيس) مربوط کميسيون شامل می گردد.

۸- محل رأی دهی: مکانی است که در داخل مراکز رأی دهی به منظور استعمال حق رأی مشخص می گردد.

## ثبت نام و رأی دهی

۳- مادۀ ششم:

(۱) واجدين شرايط رأی شخصاً به مراکز رأی دهی حضور يابند و به اساس تذکرۀ تابعيت، نام خود را در فهرست رأی دهندگان ثبت نمايند.

(۲) هيچ شخص نمی تواند بيش ازيک بارنام خود را در مراکز ثبت نام درفهرست رأی دهندگان ثبت نمايد.

(۳) رأی دهنده مکلف است، در مرکز رأی دهی ايکه قبلاً نام او در فهرست رأی دهندگان درج گرديده است، رأی بدهد.

(۴) رأی دهنده مکلف است، جهت حصول ورق رأی دهی، تذکرۀ تابعيت يا سندی را که توسط کميسيون به

په واسطه د هغه د هويت د تثبيتولو په منظور مشخص شوى دى، وړاندې کړي.

(۵) هر رايه ورکوونکى په ټاکنو کې د يوې رايې د حق لرونکى دى چې کولاى شي هغه د واسطې پرته په پام کې نيول شوي نوماند ته وکاروي.

(٦) که چېرې رايه ورکوونکى د پام کې نيول شوي نوماند د پيدا کولو له پاره لارښوونې ته اړتيا ولري، د خپل د اعتماد وړ شخص څخه د مرستې غوښتنه کولاى شي.

د کمېسيون مکلفيت

۴- د اوومې مادې (۳) فقره:

(۳) کمېسيون مکلف دى، د رايې ورکوونکو نوم لړ د رايې ورکوونې د مرکزونو په تفکيک سره، برابر او د کمېسيون د معلوماتو ملي مرکز (ديتابېس) ته وصل کړي.

د ټاکنيزو حوزو ټاکل

۵- د لسمې مادې (۲) جزء:

۲- د ولسي جرګې د غړو له پاره ولايت، مګر داچې په دې قانون کې بل ډول تصريح شوي وي.

منظورتثبيت هويت او مشخص گرديده است، ارائه نمايد.

(۵) هر رأى دهنده، درانتخابات داراى حق يک رأى بوده که مى تواند، آنرا بلا واسطه براى کانديد مورد نظراستعمال نمايد.

(٦) هرگاه رأى دهنده جهت پيدا کردن کانديد مورد نظر نياز به رهنمائى داشته باشد، ازشخص مورد اعتماد خود تقاضاى کمک کرده مى تواند.

مکلفيت کميسيون

۴- فقرهٔ (۳) مادهٔ هفتم:

(۳) کميسيون مکلف است، فهرست رأى دهندگان را به تفکيک مراکز رأى دهى ترتيب و به مرکز ملى معلومات ( ديتابيس) کميسيون وصل نمايد.

تعيين حوزه هاى انتخاباتى

۵-جزء (۲)مادهٔ دهم:

۲- براى اعضاى ولسى جرگه، ولايت. مگر اينکه در اين قانون طور ديگرى تصريح شده باشد.

## د ولسي جرگې د غړو شمېر

**۶- یوویشتمه ماده:**

ولسي جرگه د (۲۵۰) څوکیو لرونکې ده چې د هغـو(۲۳۹) څـوکۍ د نفوسو تناسب ته په پام سره ولایتونو ته، (۱۰) څوکۍ یې کوچیانو(د هېـواد نامېشـته ټولنـه) او (۱) څـوکۍ یـې هنود او سک اهل ته اختصاص ورکـول کېږي.

## د ولایتي شوري د عضویت لاسته راوړل

**۷- د دېرشمې مادې (۲) فقره:**

(۲) په هره ولایتي شوري کې لږ تر لږهٔ (۲۵) سلنه څوکۍ ښځینه نوماندانو تـه اختصاصېږي.

## د رایې ورکوونکو نوم لړ

**۸- څلور څلوېښتمه ماده:**

کمېسیون، د رای ورکوونکو فهرست، د کمېسیون د معلوماتو ملي مرکز( دیټابېس) ته واردوي او د ټاکنیز تقویم په مطابقت کې د رایې ورکولو په اړوند مراکزو کې د پوهاوي او اعتراض په منظور یې عامه

## تعداد اعضای ولسی جرگه

**۶- مادهٔ بیست ویکم:**

ولسی جرگـه دارای (۲۵۰) کرسـی می باشد کـه (۲۳۹) کرسـی آن بـا نظرداشت تناسب نفوس بـه ولایـات، (۱۰) کرسی آن بـرای کـوچی هـا ( جمعیت بدون سکونت ثابـت) و (۱) کرسی آن برای اهـل هـنود وسکهـ اختصاص داده می شود.

## کسـب عضـو یـت شـورای ولایتی

**۷-فقرهٔ (۲) مادهٔ سی ام:**

(۲) حد اقل (۲۵) فیصد کرسی ها، در هر شورای ولایتی برای کاندیـدان زن اختصاص می یابد.

## فهرست رأی دهندگان

**۸- مادهٔ چهل و چهارم:**

کمیسیون، فهرست رأی دهندگان را در مرکزملی معلومات (دیتابیس) کمیسیون، وارد نموده و درمطابقـت بـه تقـویم انتخاباتی درمراکز رأی دهی مربوط به منظور اگاهی و اعتراض، به دسـترس

لاسرسي ته ايږدي.

## د رايو شمېرنه

**۹- اووه پنځوسمه ماده:**

(۱) د رايو شمېرنه د رايې ورکونې په محل کې او د څارونکو په شتون کې صورت مومي.

(۲) کمېسيون د رايو د شمېرنې لومړنۍ او قسمي پايلې د محل، مرکز او ټاکنيزې حوزې په تفکيک سره اعلانوي.

(۳) د رايې ورکونې د مرکز مسئول مکلف دی، د رايې د شمېرنې د پايلو فورمې لږ تر لږه حد په پنځو نقلونو کې په لاندې ډول برابرې کړي:

۱- د هغو اصل په ساتنيزو خريطو کې کمېسيون ته استوي.

۲- د هغو يو نقل د رايې ورکونې د صندوق په منځ کې ايږدي.

۳- د هغو يو نقل د رايې شمېرنې په مرکز کې نصبوي.

۴- د هغو يو نقل د شکايتونو کمېسيون ولايتي دفتر ته تسليموي.

۵- د هغو يو نقل هغه نوماند ته چې په هغه محل کې يې تر ټولو ډېرې رايې

عامه قرارمی دهد.

## شمارش آراء

**۹- مادۀ پنجاه وهفتم:**

(۱) شمارش آراء در محل رأی دهی و در حضور ناظرین صورت می گیرد.

(۲) کمیسیون نتایج اولیه وقسمی شمارش آراء را با تفکیک محل، مرکز و حوزۀ انتخاباتی اعلام می نماید.

(۳) مسئول مرکز رأی دهی مکلف است، فورمه های نتایج شمارش آراء را حداقل در پنج نقل طور ذیل ترتیب نماید:

۱- اصل آن را در خریطه های محافظتی به کمیسیون می فرستد.

۲- یک نقل آن را در داخل صندوق رأی دهی می گذارد.

۳- یک نقل آن را در مرکز شمارش آراء نصب می نماید.

۴- یک نقل آن را به دفتر ولایتی کمیسیون شکایات تسلیم می نماید.

۵- یک نقل آن را به نامزدی که بیشترین آراء را در آن محل کسب

ترلاسه کړې وي، ورکوي.

(۴) د شکایتونو د کمېسیون ولایتي دفتر مکلف دی، د غوښتنې په صورت کې، د پایلو د فورمو کاپي د اړونـــدې حـــوزې نوماندانو یا د هغوی څارونکو او کتونکو لاسرسي ته ورکړي.

(۵) د رایو د شمېرنې ډول د ځـــانګړې کړنلارې په واسطه تنظیمېږي.

دوه یمه ماده:

لاندې حکمونه دې د ټاکنو په ځینو مادو کې ایزاد شي:

۱- لاندې متن دې د ټاکنو د قـــانون د لسمې مادې د (۸) فقرې په توګه ایــزاد شي:

(۸) په ولسي جرګه کې د اهل هنودو او د سک د یوې څوکۍ له پاره، ټول هېواد یوه ټاکنیزه حوزه.

۲- لاندې متن دې د ټاکنو د قـــانون د دوه دېرشمې مادې د (۳) فقرې په توګه ایزاد شي:

(۳) د ولسوالۍ په هره شورې کې لږ تر لږه حد (۲۵) ســلنه څــوکۍ، ښـځینه نوماندانو ته ځانګړې کېږي.

نموده است، میدهد.

(۴) دفتر ولایتی کمیســیون شــکایات مکلف است، درصورت تقاضا، کـــاپی فورمه های نتایج را به دسترس کاندیدان حوزهٔ مربوط یا ناظرین آنها ومشاهدین قراردهد.

(۵) نحوهٔ شمارش آراء توسط طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

مادهٔ دوم:

احکام ذیل در برخـــی مـــواد قـــانون انتخابات ایزاد گردد:

۱- متن ذیـــل بـــه حیـــث فقـــرهٔ (۸) مادهٔ دهـــم قـــانون انتخابـــات ایـــزاد گردد:

(۸) برای یک کرسی اهـــل هنـــود و سکهـــ در ولسی جرگه، تمام کشـــور یک حوزهٔ انتخاباتی.

۲- متن ذیل به حیث فقرهٔ (۳) مـــادهٔ سی و دوم قـــانون انتخابـــات ایـــزاد گردد:

(۳) حد اقل (۲۵) فیصد کرسی هـــا، درهر شورای ولسوالی برای کاندیـــدان زن اختصاص می یابد.

۳- لاندې متن دې د ټاکنو د قانون د پنځه څلوېښتمې مادې د (۲) فقرې د (۵) جزء د (۴) بند په توګه ایزاد شي:

- د اهل هنودو او سک د څوکۍ د نوماند له پاره، د اهل هنودو او سک دوه سوه رايې ورکوونکي.

۴- لاندې متن دې د ټاکنو د قانون د نه اویایمې مادې د (۳) فقرې په توګه ایزاد شي:

(۳) د هېواد د هغه ډله اتباعو په ځانګړې ډول د ښځو له پاره چې د تابعیت تذکره يې نده اخیستې، کمېسیون ددې تعدیل او ایزاد له نافذېدو څخه وروسته یوازې د نوم لیکنې د یو دور له پاره، د بېلې کړنلارې مطابق، لازم سهولتونه برابروي.

دریيمه ماده:

دغه تعدیل او ایزاد د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي او د هغو په نافذېدو سره، د ۱۳۹۲ هـ. ش کال په (۱۱۱۵) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي د ټاکنو د قانون په ځینومادوکې تعدیل او ایزاد لغو کېږي.

۳- متن ذیل به حیث بند (۴) درجزء ۵ فقرهٔ (۲) مادهٔ چهل و پنجم قانون انتخابات ایزاد گردد:

- برای نامزد کرسی اهل هنود وسکهـ، دوصد رأی دهندهٔ اهل هنودوسکهـ.

۴- متن ذیل به حیث فقرهٔ (۳) مادهٔ هفتاد و نهم قانون انتخابات ایزاد گردد:

(۳) برای آن عده از اتباع کشوربه خصوص زنان که تذکره تابعیت اخذ ننموده اند، کمیسیون بعد از انفاذ این تعدیل و ایزاد صرف برای یک دور ثبت نام، طبق طرزالعمل جداگانه سهولت های لازم را فراهم می نماید.

مادهٔ سوم:

این تعدیل و ایزاد از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشرگردد و با انفاذ آن، تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون انتخابات منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۱۱۱۵) سال ۱۳۹۲ هـ.ش لغی می گردد.

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایـــــات :　　　(۹۰۰) افغـــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور:　　　(۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

**ISLAMIC REPUBLIC**
**OF**
**AFGHANISTAN**
**MINISTRY OF JUSTICE**

# OFFICIAL GAZETTE

- Law on Organizational Structure Dusties and authorities of Electoral Independent Commission and Electoral Complaints Commission
- Amendment and addition to Some articles of Electoral Law Published in Official Gazette No: (1112) 1392 Solar Year

**Date:29th September .2015**
**ISSUE NO :(1184)**